عبدالباري جهاني ۲۰۱۲/۳/۲۶

# ښار مي منتر وهلی

شپه ده تیاره ده له کلونو له عمرونووروسته
له بل ولاته پر خپل کلي راځم
خلک ویده دي یا ویده ښکاريږي
کلی مي توله هديره ښکاريږي
له کلي ليري له دښتونو او له غرونو څخه
د ځو لیوانو انګولاوي اورم
دلته د کلي له بامونو څخه
د سپو غپاوي اورم
چیرته له لیري د ماشوم ژړا سي
او ورپسي مي سي ډیوه تر سترګو
د کلي خلکو مساپر يمه زه
څه د خوړلو لرئ؟
کومه حجره چیرته د شپي د تیریدلو لرئ؟
خلک ويده دي يا ويده ښکاريږي
کلی مي توله هديره ښکاريږي
په زوره چيغي کړمه
ورپسي بيا چيغو ته زور ورکمه
خلکو! اې خلکو! اې د مرګ په خوب ویدو وګړو!!!
تاسي ته زما آواز رسيږي کنه؟
زه مساپر یم او کیسي د اورولو لرم
څه د عبرت دي، څه د پند او ویریدلو لرم
ماته په لیري ولاتونو کي خبري فالبينانو کړي
ماته کیسي ستاسي سپين ږيرو هوښیارانو کړي
چي ستاسي ښار ته زلزلي او توپانونه راځي
پر ويدو خلکو د غديو چپاوونه راځي
د ځيناورو د ليوانو کنډکونه راځي
ژوندي به ځای د يوې شپي د تيريدو نه لري
مړي به ګور د ښخيدو نه لري
د ګاونډيو د پرديو به لښکري راځي
هستي به لوټ کړي خزاني به پر آسونو یوسي
ښایستي میرمني به سرتوري له ښارونو یوسي
اې د مرګي په خوب ويدو وګړو!
تاسي ته زما چيغي رسيږي کنه؟
زه مساپر يمه کيسي د اورولو لرم
زه په پوهيږم چي د کلي خلک
زاړه، زلمي، ولي، ناولي خلک
ځوک سوځيدلي، ځوک وهلي ځوک ويشتلي خلک
هم اسکیرلي هم ښاغلي خلک
ځوک په روا ځوک په مردارو پرسيدلي خلک
ويښ دي او زما چيغي يي واوريدلي
خو نه له وره او نه له بامه ځوک جواب راکوي
زما د مالت خلکو سلا کړې ده
چي به په پټه خوله تر خولي د بلاګانو ورځي
نه نه! خبره داسي نه ده تير وتلی يمه




افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

**زما د وګړو سلا کله زده وه؟**
**او که سلا يې چيرته زده وای نو بلا چيري وه؟**
**وګړي ويښ دي زما ناريِ او زما خبري اوري**
**چيرته له ليري يې له وړانګو سره سيوري وينم**
**د يوه بل غوږ کي پسپړي سره**
**خپل مساپر ته مړی نه ورکوي**
**ميلمه ته ځای او شړی نه ورکوي**
**له يوه وره ښخه بوډا را وزي**
**ډيوه په لاس کي پر ملا کړوپ دی پر امسا راوزي**
**وايی ميلمه پر هغه لار چي يې راغلی ورځه**
**دلته له زرو او له زور سره راغلو خلکو**
**يو څو پرديو څو ناولو خلکو**
**د ښار په خلکو تور جادو او تور منتر کړی دی**
**څوک يی په خوب کي سرې طلاوي څوک بلاوي ويني**
**ستا د پندونو او عبرت کيسو ته نه دي وزګار.**

**ويرجينيا**





افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ